مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۱۰/۲۳

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۴۰۶مه‌برخه

ترخپله ځانه تاو راتاو شوم
لالیه ستا په رقم غږ مې واوریدنه

ښیرا به ولې درته نه‌کړم
توره تېوپکه ورانوي ودان کورونه

څلور پینځه زنګه دی وکړل
صبر دی وشه، په لمانځه ولاړه یمه

د لنډیو د دې برخې له‌پلره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

که زه خندیږم، که ژړیږم
تا به همځولو سره سیاله ګرځؤمه

لکه د واورې ویلې‌کېږم
د وطن غم مې، د ژوند ورزی لنده‌وینه

د نیمې شپې رباب غږیږي
د بام پر سر ورته یوازې ناسته‌یمه

ادکې بیا ـ بیا دوعا وکړه
نور له ترخه سفر نه وینی قیٰکومه

دا نیمه شپه، بوی د لونګو
چیرته د پیغلو اتڼونه سوې دینه

په ډک محفل کې را په‌زړه شوې
خلک را ګورې، سترګې ډنډ، ډنډ اړومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په زړه مې داسې مار لګيا دی
د خوشالۍ غوښې ترې خوري، د غم پريږدينه

د پېتو سترګو قسم نه‌خورمه
څومره چې سترګې غړوم، تا ياد ومه

وعده دې وکړه، بيا رانه‌غلې
بيګا مې ټوله‌شپه نوکان خوړلي‌دينه

اول مې نه‌غوښتل ګلونه
اوس په تالاباغچو کې پاڼې ټولومه

د ليوني جانان خاطر دی
ځکه د ټول کلي منګي راډکووومه

ازاروه‌مې‌مه جانانه
څوک به دې خوښ‌شي، بيا به تا ازاروينه

زما د زړه سلا رانغله
د دروازې ملنګ ته ورکړئ رخصتونه

زما دې زړه له ځانه تور کړ
په لنډ کميس باندې دې پورې‌شه اورونه

لاړمه بل درنه واده کړم
مور ته دې وايه چې بنګړي درواچوينه

په تناره ولاړې پيغلې
ډوډۍ دې نه‌خورم، د ديدن وږی دې يمه

چې ليک مې درشي ورته ژاړه
ما چې ليکه ورته مې ډېرژړلي وونه

غمونه دوه ـ دوه راروان دي
دا زه بدمرغه ورته چا ښودلی‌يمه

د نفرتونو بازار تود دی
جانان ته وايه خوله دې چوپه ګرځوينه

که ښېتانه پېغورجن نه وای
په تش اواز به تر درشل دررسېدمه

د زړګي ټول زور به اوبه کړم
يوه ګيله به خدای ته وکړم، بيا به ځمه

کوژدن پرې شي، واده پرې نه‌شي
په کور زړه شي، ګور ته يوسي ارمانونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ته به مې هلته ارمان وکې
چې درنه لاړشم، کلی خړ درپاتېشینه

زړه مې نرېدرزونه کړي
لکه دیوال چې زلزلې وهلیوینه

تر خپله ځانه تاو راتاو شوم
لالیه ستا په رقم غږ مې واوریدنه

ماتا دې کور نه مالومېږي
پر دیوال شنهلوپټه کېده، دربه شمه

ښیرا به ولې درته نهکړم
توره ټوپکه ورانوي ودان کورونه

انګار می بیا د زړه تازه شو
څه موده پس می د یار وکړل دیدنونه

ځلور پینځه زنګه دی وکړل
صبر دی وشه، په لمانځه ولاړه یمه

که یادول دې په پیسو واي
له پاکستانه به دې زیات پوروړی ومه

د پلار وطن مې کابل جان دی
په پېښور د کډوالۍ ژوند تېرومه

د تا یاري نه ده، بلا ده
چې نوی یار کي، زوړ ته ورکي ځوابونه

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ